مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر

۲۰۲۱/۰۲/۱۲

# د ښاپیرۍ ورغوي په کربنو کې

صبر چې کاروان د ښاپیـرۍ ورغـوۍ پرانیـزي
کرښې، کرښې پروت پکې د ورکو نغمو فال یمه

په وروستیو کلونو کې دپښتو شعر دلوړتیا پر لوري ګرندي ګامونه پورته شول او دشعر په نړۍ کې یواوښتون رامنځته شو،دشعر او شعار ترمنځ څرګنده کرښه را وکښل شوه اوس څوک هغو شعرونو ته غوږ نه ږدي ،چې پخپله لمن کې ښکلا،عاطفه،احساس او ژبنی خوږلني ونه لري او تش سیاسي شعارونه وی ،چې دزړونو په دښتو کې یوازې دکینې او کرکې تخمونه شیندي .دداسي شعرونو اوریدل ددې پرځای چې دوطن درنځیدلو خلکو زړونه ټکور کړي دځینو په زړونو کې دتعصب او بدبینې اوروته تازه کوي چې دادشعر دنده نه شو بللای.
دشعر دهنري لوړتیا پرلورمزل څه اسانه نه و،دا په سرو غرمو کې پرشګلنولارو دتږو مسافرو ستړی مزل و،چې له خنډونو څخه په تیریدو سره یې په ډیرو کړاونودژوندبخښونکواوبوچیني ته لاري لنډې کړې،دااوبه له میني اوښکلا څخه ډک شعرونه و،چې په اوریدو یې په زړونو کې دمینې او صمیمیت ګلونو ټوکیږي .
ددغه اوږده سفر له لارویو څخه یوهم پیرمحمد کاروان دی،چې پخپلو نوښتګرو هستونو سره یې پښتو شعر ته نوی رنګ او خوند بخښلی دی چې دده دشعر دبي شمیره مینه والو تر کابو دری کلن انتظار وروسته دادی ددغه نومیالي شاعر دشعرونو دریمه ټولګه (دښاپیرۍ ورغوۍ) له چاپه راووت.
تردې دمخه دشعر په برخه کې د ښاغلی کاروان دوه نور کتابونه ( له ماښامه ترماښامه ) او (چنار خبرې کوي ) هم خپاره شوي دي چې وروستي کتاب یې په ادبي کړیو کې له تاوده هرکلي سره مخ شو او دشعر دمینه والو تنده یې ماته کړه .ددغه کتاب له خپریدو وروسته ډیر کسان په دې نظرو،چې کاروان ښایي ونه شي کړای دچنار خبرې کوي دکتاب دشعرونو په کچه ښکلي شعرونه ووایي ،خو(دښاپیرۍ ورغوۍ) دا ثابته کړه چې دسندرو په سمندر روانه وچکالي څه اغیزه نه شي لرلای.
(دښاپیرۍ ورغوۍ) دخیال هغه ښکلي تابلو ده چې په کې ډیرې هیلې ،ارمانونه ،اوښکې،خندا،دمینې پیغامونه او دژوند رنګینې ځان را ښیې ،چې دکاروان ځواکمن تخییل ورته ساه ورکړې ده :
سپین دښاپیرۍ ورغوۍ پرانیزه کاروانه
شعر دې په خوشبو لمبوه تور لونګ به راوړي
د اروابناد استاد محمد صدیق پسرلي خبره ده چې وایي ښه شعر هغه دی چې لوستونکي ترلاس نیولي دځمکې پرمخ وګرځوي او دژوند لوړې ژورې یې سترګو ته ودروي لوستونکی او اوریدونکی له ځانه سره هسک ته بوځي او په نااشنا نړۍ کې یې وګرځوي.
دکاروان شعر دا قدرت لري چې دلوستونکي او اوریدونکي ویده تخییل راویښ کړي کاروان انځورګر شاعر دی او په خپل شعر کې یې نوي تشبیهات او مفاهیم په ډیر هنري انداز بیان کړي دي :
خوب وینمه لمر پلې په شنودرو کې ګرځي
لال دبدخشان به له خولې شین ښامار خطا کړي
***
خوب مې تښتیدلی که په لاس درغی رایې وړه
چاراته ویل چې په خوبونو دې لاس بردی
یا:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دتار پرې کړي کاغذباد په شان که هرچا ونيو
دهغه خپل شو،خپل زړګي رانه هوا کړې ده
موږ وينوچي شعر يوازي دځو کليماتو او بي معنا مفاهيمو جوړونه نه ده،بلکي له کليماتو يي ديوه تکړه معمار په څير پخپل ځای کي کټه اخيستي ده او هغو ته يي هنري رنګ او خوند ورکړی دی.
لکه څنګه چي کاروان په ورځني ژوند کي يو صميمي انسان دی ،همدغه خصوصيت يي په شعرونو کي هم ځان ځرګندکړی دی په شعرونو کي يي يو ځانګړی صميميت پروت دی ،هغه دځينو نورو شاعرانو په څير په مصنوعي ډول له مفاهيمو تصويرونه نه جوړوي بلکي هغه څه وايي چي احساس کړي يي دي او څه چي يي په زړه کي ورګرځيدلي دي ويلي يي دي په شعرونو کي يي له انسان سره مينه له ورايه ځرګنديږي:
سپين دتورو وروړګنمه،تور دسپينو وروړګنم
دواړه مي ددواړو سترګو سپين ګڼمه،تور ګڼم
پام کوه دکفر په فتوی مي چي ونه نمانځي
زه خو ميکده خدايږوسکه دجومات خور ګڼم
ما دکاروان په شعرونو کي داسي شعرونه ونه موندل چي دبل کوم شاعر تر اغيزي لاندي دي وي،کاروان پخپل شعر کي خپله کاروان دی ،دی دهغو شاعرانو له ډلي څخه نه دی چي دنورو شاعرانو دشعرونو په لوستلو سره شعر ووايي ،کاروان هغه څه ويلي چي تر ده دمخه بل شاعر په هغه ډول نه دي ويلي ،هغه له خپل ژوند او چاپيريال څخه الهام اخلي او دخپل شعر ښاپيری ورته دالهام ګلونه راوړي:
راوړي به ښاپيری درته ګلونه دالهام
بس بار به دي کاروانه وي اوښان په ترنم
يا:
داچي پرانيزي نن دخيال دښاپيريو تتی
کاروان دښکلي اوښ له اوښکو نه الهام اخيستی
او:
ښاپيری زما استاده په غزلو يي لاس بردی
راښوولی يي په خوب کي دسندرو پيغمبر دی
کاروان صاحب دمنظمو او غزلو ترڅنګ ازاد شعرونه هم ليکلي دي په ازادو شعرونو کي يي هم دنوښت پله درنه ده. ښايسته او خواږه کليمات يي انتخاب کړي دي نوي سمبولونه او ترکيبونه يي خلق کړي دي چي (ګل او بنيادم) (دهوسۍ دشيدوبوی)،(ليونيه سندرماره)او(لکه زيره زرغونه) شعرونه يي دځانګړې يادوني وړ دي.
دکاروان دشعرونو يوه ځانګړتيا داده چي په شعرونو کي يې نهيلي نه ليدل کيږي،هغه په ترو شپو کي دستورو رڼايي ويني او باوري دی چي دتيارو زور به اوبه کيږي:
شپه څه بلا ده دوصال مخه نيولی نه شي
ستوری وستورو ته ور وغځوي لاس درڼا
ستا دکاروان په مخ کي بيا دتيارو غرروان دی
ساقي تر مورګو پورې ډک راوړه ګيلاس درڼا
يا:
ښني که دي شپي دي له سبا دي سپين لاسونه ډک
نن سبا خو ژوند ايله دشنو ښنګريو شور ګڼم
***
ښاپيری بيګاته راشه اوس مي ښه کاروبار جوړ دی
په زړګي شپي مي تاته نن دستورو نه هار جوړ دی
***
ځم چي له لفظونو نه دشاتو مچی جوړې کړم
چاوي ژړيدلی دلته ګل د پيغمبر دی
يوه ورځ استاد غضنفر په يوه ادبي باندار کي يوه ښه شي ته اشاره وکړه ،هغه وويل چي دجهاد او هجرت په کلونو کي دروسانو پرضد ډير شعرونه وويل شوځو يوه يي هم دهيواد په يوه ليرې غره کي ليکل شوې دغي لنډۍ په څير دخلکو په زړونو کي ځای نه دی نيولی:
وطن نيولی رانه نه شي
روسيه ولي ورانوي ودان کورونه
دغه لنډۍ چي چا اوريدلي ده په ياد يي ده خو زموږ زياتره شعرونه او ګذارش ډوله شعرونه دا قدرت نه لري دا ولي؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

پورتني لنډۍ هغه چا دزړه له صدقه ويلي ده چي په مورچل کي ديرديو پرضد جنګيده ،هغه پوخ باور درلود چي که روسان ددې وطن هر ځومره ځوانان شهيدان او کورونه يې وران کړي ،خو هغه دومان خبره ((وطن نيول يې قرآن کې)) له بلي خوا په دې لنډۍ کې عاطفه او يو لوی ارمان پروت دی .
راځۍ وګورو چي کاروان صاحب په دې برخه کي تر کومه حده بريالی دی ؟هغه دسره پوځ دتيري او دخپل ولس دمقاومت په باره کي وايي:

بيا برګی په هوا ګرځي
توغندي ولي راولي
داچي پاس پکي سپاره دي
تر شيطان دي هم ناولي

يا:

له سپين سالنګ نه يي لمر تول ونيوه
له روس نه دومره الوتکي راغلي
دمه يي وکړه دباګرام پر ډګر
دا په لټون دکومي ورکي راغلي
***
يوځو شين سترګو نااشنا وګړو
په برګ وزرو کي بنزين واچول
پر ځای دزړونو په لاس دشيطان
سينو کي تور کاني دکين واچول
***
داظالمان پر ځيګر ولي زلميان
له ځوانو زړونو نه يي زور تويوي
په سپينو ليچو يي سرپه ونه کړه
ترينه دشنو بنګړيو زور تويوي

او يا په دې شعر کي:

راکوزول چي پري سپين سترګي هوا باز له هوا
زموږ دکلي په سم منځ باندې خروار بمونه
له هغي شني پربني راباسمه روسي توغندی
چي مي دښکلي کليوال شپونکي
دزړه په تودو وينو سور دی
هغه شپونکی چي په تالو کي به يي ژبه دځپو ګډيده
چي په سندرو ميوندي کي يي ملاله دټپو ګډيده ...

په بل ځای کي وايي:

دښنه ځنګه په هغه لره خواکي
ماته دبر کلي شپونکی ښکاري
ټوپک په ښه او ډيرانګ په ځوکي
داسي په بريد لکه زمری ښکاري
ګوره شين سترګو نه به ښکار خطا کړي
زړه دتور سترګي کي غورځي ښکاري

موږ دبر کلي دشپونکي په ځيره کي دخپل ولس معصوميت،ځوروني،شهادتونه او وياړونه ليدلای شو ،کاروان دځينو نورو په شان تش دمرده باد او زنده باد ناري نه وهي ،دخپلو شعرونو په وسيله کرکه نه خوروي ،بلکي په پوره صداقت هغه څه چي تير شوي دي زموږ دسترګو په وړاندې ديوې روښانه تابلو په څير انځوروي ،نو خود به زموږ په زړونو کي ځای نيسي .
کاروان صاحب له مفاهيمو او کليماتو سره سرسري برخورد نه کوي ،داسي نا پيژندل شوي سمبولونه چي دمعنا پوهيدل يې ګران وي ډير نه کاروي ،شعرونه يې يوله بله ښکلي دي ،که سرۍ وغواړي په يوه شعر کي يي دځو بيتونو بيلګي وړاندې کړي مجبوريږي تول شعر يا دشعر زياته برخه راواخلي ،کله چي ځوک يوبيت لولي تر هغه وروسته يي بل بيت بيا ترهغه ښکلي او په زړه پورې وی:

ولي راته وايي چي لږ وارکوه وار څه مانا
کار دميني کار دی له دې کاره انکار څه مانا...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

یا :
زموږ داوښکو مرغلرې ګوندې آب نه لري
دوخت خندا نه زده ،که سوال ته مو ځواب نه لري
پرماین ختلي درخو ورکه بسوګی ودیږي
دآدم لاس په جنګ کې پرې ،تاب درباب نه لري
او یا:
هغه افغان ګل یې چې ګلچین به مسلمان کړي
هند به مسلمان کاندې او چین به مسلمان کړي...
ترپایه
کاروان دیوه بااحساسه شاعر په توګه دپیښو په مقابل کې بې تفاوته نه دی پاتي شوی ،دوطن رواني غمیزې دده حساس زړه ژړولی ،ځکه خو وایې:
وطن داور په سیند کې لامبې زلمي جنګ خوړلي
دکابل جان دنجونو مړي هم نهنګ خوړلي
یاددې شعر څو بیتونه:
دبدرنګۍ له سیند وباسو دسندرو بیړۍ
الله لاهو مه کړې دښکلو مسافرو بیړۍ
دڅو کیږدیو اویوڅو دانو خورما په بدل
ولاړې عربو ته دلمنځو،دنښترو بیړۍ
موږ ته زخمونه دځیګر دسترګو اوښکي پاتي
پاریس ته ځي دزمردو دلاجوروبیړۍ
موږ دشهیدې خور ټیکری کړ دجونګړې پرده
لوټمارو بار کړې درخامو دمرمرو بیړۍ
کله چې دکاروان شعر لولو،فکر کووچي شاعر دموږ له زړونو خبردی ،هغه څه چې موږ غوښتل ده ویلي دي او په داسي انداز یې ویلي دي چې دهر لوستونکي او اوریدونکي په زړه کي تل پاتي ځای نیسي.
ګوړې او شکرې دې سندرو ته ورګډې کړي
ښکارې چې کاروانه دهندو دکان دې ګرو دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ